# د یوحنا رسول درېم لیک

## د کتاب پېژندنه

د یوحنا رسول درېم لیک هم په هماغه وخت کې چې د هغه اول او دوهم لیکونه لیکل شوي وو، د غایوس په نوم د کلیسا مشر ته لیکل شوی دی. یوحنا د غایوس قدرداني کوي، ځکه چې هغه د مېلمنو مسیحیانو سره مرسته کړې ده. همدارنګه هغه د دیوترفیس په هکله چې د مذهبي ټولنې یو ځان ښوونکی مشر دی، خبرداری ورکوي ځکه هغه د هغو مسیحیانو سره مخالفت کوي.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱ – ۴
همکاري او مخالفت: ۵ – ۱۲
وروستنی خبرې: ۱۳ – ۱۵



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سلامونه

۱ د کلیسا د مشر له خوا ګران ګایوس ته چې په رښتیا راباندې ګران دی. ۲ زما ګرانه ملګریه! زه دعا کوم چې په هر کار کې بریالی اوسې او لکه څنګه چې په روحاني توګه روغ او جوړ یې، نو همداسې په جسماني توګه هم واوسې. ۳ کله چې ځینې ورونه راغلل او ماته یې ستا د وفادارۍ په هکله شاهدي راکړه او دا چې ته تل په رښتینې لاره ژوند تېروې، نو ډېر خوشحاله شوم. ۴ د دې نه زیاته خوشحالي ماته په بل هېڅ شي کې نشته چې کله واورم چې زما اولادونه په رښتینې لاره روان دي.

## د غایوس همکاري او د دیوترفیس مخالفت

۵ ګرانه دوسته! ته په هغه خدمت کې چې دې مسیحیانو ته یې کوې ډېر وفادار یې، که څه هم ته هغوی نه پېژنې. ۶ هغوی د دې ځای کلیسا ته وویل چې د هغوی سره څومره مینه کوې. مهرباني وکړه د هغوی سره په سفر کې داسې مرسته وکړه لکه د هغو خلکو په شان چې د خدای خدمت کوي. ۷ ځکه چې هغوی مسیح ته د خدمت کولو په خاطر په سفر روان شول او د بې دینه خلکو نه هېڅ مرسته نه غواړي. ۸ نو موږ باید د داسې خلکو سره مرسته وکړو او د حقیقت په خپرولو کې د هغوی سره ملګري شو.

۹ ما ستاسو کلیسا ته یو لیک ولېږه خو دیوترفیس چې خپل ځان د نورو څخه لوړ ښایي او زما واک نه مني. ۱۰ که زه درغلم نو د هغو کارونو په هکله چې هغه یې کوي او زموږ په هکله بېځایه او بدې خبرې کوي، خبرې وکړم. هغه لا په دې هم قناعت نه کوي بلکې خپله هم مسیحیان نه مني او نور هم نه پرېږدي چې هغوی ته هرکلی ووایي او د مېلمنو مسیحیانو مرسته کوونکي د کلیسا څخه شړي.

۱۱ زما ګرانه دوسته، د بدۍ پیروي مه کوه، بلکې د نېکۍ پیروي کوه. کوم خلک چې نېک کارونه کوي، هغوی د خدای اولادونه دي او څوک چې بد کارونه کوي، هغوی هېڅکله هم خدای نه دی لیدلی. ۱۲ ټول خلک د دیمیتریوس په هکله ښه شاهدي ورکوي او حقیقت همدا دی. موږ هم د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه په هکله ښه شاهدي ورکوو او ته پوهېږې چې زمونږ شاهدي رښتيا ده.

## وروستنی خبرې

١٣ زما سره ډېرې خبرې شته چې غواړم تاته يې وليکم، خو زه نه غواړم چې تاته هغه په قلم
باندې وليکم. ١۴ زه هيله لرم چې ډېر زر دې ووينم او مخامخ در سره خبرې وکړم.

١۵ سلامتي دې وي په تا باندې. ټول دوستان دې درباندې سلامونه وايي، زمونږ هر يو دوست ته
سلامونه ووايه.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
د ختيځ افغانستان ٢٠٢١ © afghanbibles.org
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.